انجنیر سلطان جان کلیوال

۲۰۲۰/۱۱/۰۸

# خـــاورې!

تاسـره مې میـنه ده ، د بحـر د څـپـو په شــان
ته را باندی ګرانه یی، دمور او دپښتو په شان

څـو چی سـمندر سره څپـې وي، زه یم تاسـره
ته مې خوره شوی یی، وجود کی د رګو په شان

تاسـره دردونه کړاوونه، ټـول زغـمـلی شــم
بی له تا ورکیږم په رڼا کی ، دتیــارو په شـان

زه لکه ماشوم چی را لوئیږی، د مور غیږه کی
یمه را لوې شوې، ستا د غرونو د ځنګلو په شان

خاوره د وجود مې ، **خاورې** تانه جوړه شویده
ستا بچي ښکلا ده، ستا د پاره ګل غونچو په شان

مور مې یی وطنه! بی له تانه، زه هیڅوک نه یم
وړې به مې بادونه، هرې لور ته د وښو په شان

ته زما تقدیر، زما ژونـدون، زما وجـود ته یــی!
ګران یی راته ډیر وطنه، پلار په شان نیکو په شان

بی له تا دی نه شی کلیوال د بلې خاورې زوی
غیږ ته دی را مه شه، خپل بچی لکه پردو په شان

ایجکس – تورنتو . کاناډا



د سلطان جان کلیوال د نورو لیکنو لپاره ، دلته کلیک وکړی


ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com